AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۱۹/۱۰/۰۱

# «وروںو جمع تیاره ده...»

## د رڼا او تیارې جګړه

یو ځلې د اروپا په یوه لوی ښار کې د یوه افغان تلویزیون د ځانګي پرانستغونډه وه، ما د یاد تلویزیون مسؤلین نه پیژندل چې د هغو په پار ورغلی وای، خو یو بل چا په ډېر ټینګار سره اړ کړم چې نه یوازې غونډې ته به راسره ځې، بلکې په محفل مې به له موضوع سره اړوند خبرې هم کوې. ما هم په دې نیت ومنله چې څه سریه میډیا خو رڼا خپرونکې ده، زه به هم د خلکو د اذهانو په روښانه کولو کې د میډیا پر رول وغږېږم. نورو وینا کونکو چا رسمي او کلیشوي خبرې کولې او چا لکه تل د مبارکی پیامونه وړاندې کول او...

کله چې زما د خبرو وار راورسید په لنډ ډول مې د میډیا پر ډولونو او بیا د خلکو په ژوند او افکارو د تلویزیون پر رول خبرې وکړې او د خپلو خبرو په لړ کې مې کله چې دا جمله وویله:

میډیا د رڼا خپرونکې وسایل دي او د رڼا او تیارې په جګړه کې به خامخا بریا د رڼا په برخه وي، اوس د بریا وخت را نږدې شوی او میډیا او رڼا به بریالي کېږي او...

چې نا څاپه د تیارې یو استازی ودرید او په لوړ غږ سره یې پر حاضرینو باندې غږ وکړ:

**«وروںو جمع تیاره ده...»**

بس په محفل کې تقریباً نیمایي حاضرین په غږ کونکي پسې پاڅېدل او...

مانا دا چې موږ د رڼا او پرمختګ پلوي نه، بلکې د تیارو پلوي ډېره کوو.

د «وروںو جمعه تیاره ده...» غږ کونکی هم په کابل کې د ملا صبور په څېر، د نور المشایخ له لارویانو څخه دی او نورالمشایخ هغه څوک و چې د شاه امان الله د تکفیر فتوا یې ورکړې وه او شاګردان یې غواړي چې دلته په اروپا کې د رڼایي د خپرېدو مخه ونیسي.

دا خبره چې د تیارې استازي خلک د څراغ له رڼا نه پاڅول، دا ډېره موده مې پر زړه لکه درنه تیره پرته وه او داسې مې پتیلې وه چې زه به یو څه پرې لیکم، خو مصروفه ژوند، د ویر او خوښی سفرونو او حق و نا حق بوختیاوې د دې کرښو لیکلو ته نه پرېښودم؛ تر څو چې د ۲۰۱۹ کال د اګست پر نولسمه په افغان جرمن ویبپاڼه کې د («سیهکاران تأریخ» یا تشابه اندیشه سیاه و تاریک) تر سر لیک لاندې، د ښاغلي احسان لمر مقاله خپره شوه، په لوستلو سره یې بیا ما ته د رڼا او تیارې جګړه راياده شوه. یو څو کرښې مې ولیکلې، چې بیا د یو اوږده سفر غږ را باندې وشو.

کله چې له سفر نه بېرته راستون شوم او خپلو کار لاندې مقالو ته مې پام وکړ، نو تر ټولو لومړی مې همدا مقاله «وروںو جمعه تیاره ده...» د بشپړېدو په پار را خلاصه کړه.

ښاغلی احسان لمر د افغانستان په اوسني تاریخ کې د رڼا او تیارې د جګړې مستندې بېلګې را اخیستي دي. لوستونکي کولای شي په لاندې لینک کې بشپړه مقاله ولولي:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/lemar_e_siyakaran_tarikh.pdf



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

زه له ښاغلی احسان لمر نه مننه کوم چې د افغانستان د تاریخ په دې حساسو شیبو کې یې په خپله علمي مقاله («سیهکاران تأریخ» یا تشابه اندیشه سیاه و تاریک) کې په مستند ډول د رڼا او تیارې (د پوهې او نا پوهی) د جګړې مسأله رامنځ ته کړه او په تاریخي اسنادو سره یې وښوده چې زموږ په معاصر تاریخ کې:

ـ څوک د علم پلوي دي او څوک د ناپوهی،

ـ څوک پرمختګ او ترقي غواړي، څوک د وروسته پاتې والي او جهل په رسی باندې خلک تړل غواړي،

ـ څوک غواړي چې دا خلک او دا وطن د پوهې، او رڼا په لور وخوځوي، څوک او ولې غواړي دا هر څه په تیارو کې پاتې شي.

زه هیله لرم چې که د احسان لمر په څېر نور قلموال هم د رڼا او تیارې په جګړه کې، د رڼایي د سپاهیانو په څېر، دې ته ورته نورې مستندې مقالې او کتابونه ولیکي؛ نو بریا به خامخا د «رڼا» په برخه وي او د نوي نسل په علمي روزلو کې به مو خپل علمي او انساني دنده په بریالي ډول تر سره کړې وي.

د رڼا او تیارې دا جګړه به روانه وي،

زه د احسان لمر په څېر داډه یم چې د رڼایي، پوهې او پرمختګ پلویان به برلاسي وي.

اوس زموږ نوی نسل او د هغوی کورنی له سختو ستونزو سره لاس ګرېوان دی:

ـ د نوي نسل په روزلو کې د تیارې د پلویانو ډار او د ځوانانو بې لارې کول یو خوا درونډ بار،

ـ له بله پلوه نا امني،

ـ له بلې خوا په مخدراتو باندې د ځوانانو اخته کېدل،

ـ بیکاري او له بیکاری سره اړوندې ستونزې،

ـ انسان تښتونه ـ بیا باج ورکول او ...

که د رڼا د لارویانو او د پوهې د پلویانو مبارزې په جدي ډول پسې وغځول شي، هیله شته چې نوی نسل به له یادو تیارو ځانونه راویستلای شي.

د دغو ټولو بارونو د پر اوږو وړلو یوه ساده بېلګه د یوه سپینږیرې له خولې:

**«سپین ږیری راسره لاره کې یو ځای شو، د پارک خواته کور ته یې لاس ونیوه:**

**دغه مې کور دی؛ خو بچیان مې په چرسو او پوډرو د اعتیاد له ویرې بیرون نه پرېږدم.**

**ډیر بد حالت دی، هیڅ نپوهېږو څه وکړو.**

**اولادونه له انتحاره وساتو، له انفجاره یې وساتو، له اعتیاده یې وساتو...**

**سترګې یې ډکې شوې:**

**په موږ خو تېره شوه، اوس مو د ځوان او راتلونکي نسل برخلیک ژړوي.»**

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځیر و لولـئ